1,000,000

**عبدالحسیب حکیم** 14-03-2018

## پیام تبریکیه به مناسبت تجلیل از بازدید 1000,000 نفر در (AGO)

د افغان جرمن د ویبپاڼې معززو چلوونکو سلام علیکم!

زه هم په خپل وار سره تاسو او د افغان جرمن د وزينې پاڼې ټولو مينه والو ته د دې ښه خبر چې د افغان جرمن د لوستونکو او ليدونکو شميره په ډيره لږه موده کې له يو ميليون څخه اوښتې ده، د زړه له کومې مبارکي وايم. دا شميرنه ښيي چې د افغان جرمن ويبپاڼه په خپلو ملی دندو کې په ماضي کې بريالی وه، او دا بريا به د دې سبب وګرځي چې په راتلونکي کې هم خپل دې ملی رسالت ته استمرار ورکړي. د يادوني وړ ده چې مونږ په داسې يو وخت کې دا ښه خبر اورو چې ګران هيواد افغانستان له ډيرو ناخوالو سره لاس او ګريوان دئ. نن ورځ د هيواد ناخلفه بچيان د غليم په لمسون په ډيرې بی شرمی زمونږ له له افغاني هويت څخه انکار کوي، زمونږ پر ملی او اسلامی مقدساتو باندې ملنډې وهي. نن ورځ بی له کومې مبالغې څخه په سل ها وو چاپي، غږيزې او انځوريزې رسنۍ د هيواد دښمنانو د لاسپوڅو په لاس کې دي، کومې چې هره ورځ د ګران هيواد افغانستان د منافعو پر ضد ناروا تبليغاتو باندې بوختې دي. دا رسنۍ د ګاونډيانو په خاصه توګه د آخندي رژيم په چوپړ کې دي د مثال په توګه : افغان پير، خبرګزاری جمهور، سلام وطندار، د تاجيکانو په نامه پاڼه، د رزاق مأمون فاشيستي پاڼه، خاوران، د هشت صبح پاڼه، آرمان ملی او په لس هاوو نورې رسنۍ.



نو دا يې وخت دئ چې وطنپاله فرهنګيان په يوه ليکه کې د خپل ګډ سنګر څخه په ګډه دفاع وکړي. زما هيله دا ده چې ټولې

افغاني رسنۍ کومې چې د ګران هیواد د ملی او دینی ارزښتونو په خدمت کې دي، لاسونه سره ورکړي که دا د افغان جرمن ویبپاڼه وي او یا هم د آریانا افغانستان آنلاین وزینه ویبپاڼه ، له خپلو وړو وړو ثلیقوي اختلافونو څخه تیر سي اوستر آرمان چې هغه د ګران هیواد ته خدمت دئ، د وروګلوی لاسونه سره ورکړي. له معززو لیکوالانو څخه مې هیله دا ده چې دواړو وزینو ویبپاڼو ته دې خپلې لیکنې لیږي تر څو چې ټول وطنپاله افغانان ترې ګټه واخلي. زه په پوره یقین ویلی شم چې مونږ د افغان جرمن او افغانستان آنلاین وزینو ملی ویبپاڼو تر څنګ په لس هاوو نورو ویبپاڼو ته هم ضرورت لرو.

د یوه آزاد، خپلواک او سرلوړي لوی افغانستان په هیله